د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معينيت
د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د اطلاعاتو امريت

هفته نامه
راستنده عودت

۱۱۴مه گڼه، ۱۴۰۵ لړم: لومړی مخ/ شماره ۱۱۴ عقرب ۱۴۰۵:صفحه اول

د مهاجرينو چارو وزير د ملګرو ملتونو د سرمنشي له ځانګړي استازي او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي له نوې مشرې سره وکتل

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزير محترم مولوي عبدالکبير په خپل کاري دفتر کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي له ځانګړي استازي او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي له نوې مشرې اغلې رباب فاطمي سره تعارفي ليدنه وکړه.

په دغې ليدنه کې، چې له اغلې رباب فاطمي سره د يوناما نورو مسوولينو هم برخه لرله، پر بشري مرستو سربېره له نړۍ سره د اسلامي امارت د تعامل په برخه کې د يوناما پر منځګړيتوب خبرې وشوې.

اغلې فاطمي وويل، چې ملګري ملتونه له اړمنو افغانانو سره مرستو او له اسلامي امارت سره نيږدې کار ته ژمن دي او هڅه کوي، چې راستنو شويو ته پر وخت مرستې ورسوي.

د هغې په خبره، چې د بشري مرستو جلب، له اسلامي امارت سره د نړۍ د تعامل په برخه کې منځګړيتوب او بشري حقونه يې کاري لومړيتوبونه دي او يادونه يې وکړه، چې اسلامي امارت راستنو شويو او اړمنو افغانانو ته اړتيا وړ خدمتونه وړاندې کړي او د کډوالو لړۍ يې په غوره ډول مديريت کړي ده.

نومورې وويل، چې راستنو شويو ته د اغېزمنو مرستو رسولو لپاره له اسلامي امارت سره نيږدې کار ته اړتيا ده. هغې زياته کړه، چې راستنو شويو ته د دايمي سرپناه، کاري فرصتونو او په ټولنه کې يې د ادغام په موخه له نړۍ‌والو د مرستو راجلبولو لپاره هڅې پيل کړې او تمه ده، چې مثبتې پايلې به ولري.

محترم مولوي عبدالکبير د يونامـا نوې مشرې او ورسره مل پلاوي ته ښه راغلاست وويل او اغلې رباب فاطمې ته يې په دنده کې د بريا هيله څرګنده کړه.

محترم وزير زياته کړه، چې اسلامي امارت له نړۍ سره د شريعت په رڼا کې مثبتې اړيکې غواړي او يادونه يې وکړه، چې نړۍ دې د افغانستان اسلامي نظام او ارضي تماميت ته درناوی ولري او بېځايه تورونه د حل لار نه ده.

د ناستې پر دوام محترم مولوي عبدالکبير څرګنده کړه، چې افغانستان په بشپړ ډول امن دی او افغان حکومت د هېواد د پرمختګ لپاره لويې پراختيايي پروژې پيل کړې دي.

محترم وزير راستنو شويو ته د اسلامي امارت لخوا د خدماتو وړاندې کولو ته په اشارې سره يادونه وکړه، چې ملګري ملتونه دې د مهاجرينو په ښارګوټو کې د بنسټيزو خدمتونو د چمتو کولو په برخه کې ونډه واخلي.



رسیده گی به مشکلات مهاجرین افغان در ترکیه؛ محور دیدار هیئت مشترک با جنرال قونسل افغانستان در استانبول

هیئت اعزامی مشترک وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان و وزارت امور خارجه، تحت ریاست محترم مولوی سعید احمد بنوری، رئیس دفتر مقام این وزارت با مفتی محمد اکبر عظیمی، جنرال قونسل امارت اسلامی افغانستان در استانبول ترکیه، به تاریخ ۷ عقرب، دیدار و گفت وگو کرد.

در این دیدار، محترم بنوری اهداف سفر هیئت به کشور ترکیه را تشریح نموده، رسیده گی به مشکلات مهاجرین افغان مقیم ترکیه، بازدید از مراکز نگهداری مهاجرین و بررسی مشکلات آنان، و شریک ساختن سند همکاری های مشترک در امور مهاجرت را از اهداف عمده این سفر عنوان کرد.

وی همچنان از جنرال قونسل و دیپلومات های امارت اسلامی افغانستان در استانبول خواست تا در راستای تحقق اهداف سفر، با هیئت اعزامی همکاری لازم نمایند.

در مقابل، مفتی محمد اکبر عظیمی و مسئولان قونسلی ضمن خوش‌آمدگویی به هیئت، آماده گی خود را برای همکاری اعلام کرده مشکلات مهاجرین افغان مقیم استانبول را مطرح نموده و خواستار پیگیری آن ها در نشست های پیش‌رو با رئیس اداره مهاجرت و وزارت امور داخله ترکیه شدند.

تمدید اقامت مهاجرین افغان و کاهش هزینه های آن، تسهیل روند تمدید و دریافت اقامت، فراهم سازی سهولت در روند اخذ ویزه و افزایش ویزه به منظور جلوگیری از مهاجرت های غیرقانونی از جمله موضوعات مطرح‌شده در این دیدار بود.

این دیدار در راستای هماهنگی میان نهاد های مسئول افغانستان، بررسی مشکلات مهاجرین افغان در ترکیه و پیگیری راه حل های مناسب برای رسیدگی به چالش های آنان انجام شد.



په استانبول کې د افغان کډوالو استازو له ګډ حکومتي پلاوي سره خپلې ستونزې او وړاندیزونه شریک کړل

ترکیې ته د مهاجرینو چارو وزارت د مقام دفتر رییس ښاغلي مولوي سعید احمد بنوري پر مشرۍ، لېږل شوي ګډ پلاوي د ترکیې په استانبول کې د روانې میاشتې په ۸مه د افغانستان په قونسلګرۍ کې د افغان کډوالو له استازو سره وکتل.

په استانبول کې د افغانستان قونسل ښاغلي محمد اکبر عظیمي د قونسلګرۍ له لوري د وړاندې شویو خدمتونو په اړه معلومات شریک کړل، هغه د پېژندپاڼو ستونزو ته رسېدنې، له کډوالو سره د اړیکو او همغږۍ له ښه‌والي ډاد څرګند کړ.

وروسته ښاغلي بنوري د کډوالو ستونزې او شکایتونه واورېدل او د افغانستان او ترکیې اړوندو مقاماتو ته یې د هغوی رسول د خپل سفر موخې وبللې او زیاته یې کړه: عالیقدر امیر المومنین حفظه الله د خپل مسوولیت او ترلاسه شویو راپورونو له مخې دغه پلاوی ګومارلی، چې د کډوالو ستونزې له نیږدې وارزوي او د حل هڅې یې وکړي.

د کډوالو استازو د یادې قونسلګرۍ له خدمتونو خوښي څرګنده کړه، خپلې ستونزې او وړاندیزونه یې شریک کړل.

په پېژندپاڼو کې د نوم اصلاح، د هویت تثبیت اسانول، د سندونو د اصلاح لپاره د شاهدانو کمول، د کاري وېزو له لارې د قانوني کډوالۍ زمینه برابرول، د کرنې او مالدارۍ په برخو کې د کاري فرصتونو رامنځته کول یې خپل اړین وړاندیزونه یاد کړل.

ښاغلي بنوري د ستونزو او وړاندیزونو تر اورېدو وروسته ډاډ څرګند کړ، چې دغه وړاندیزونه او ستونزې ثبت او د دواړو هېوادونو له اړوندو مقاماتو سره به یې شریکې کړي.

همدارنګه د بهرنیو چارو وزارت د مهاجرینو په چارو کې د قونسلي چارو ریاست مرستیال ښاغلي مولوي محمد صابر د غیابي پېژندپاڼو د صدور په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل: په ترکیه کې د کډوالو هویت تثبیت او پېژندپاڼو د وېش حضوري ډلو برابرولو هڅې روانې دي.

دغه لیدنه له افغان کډوالو سره د اړیکو پیاوړتیا، د هغوی ستونزو معلومولو او وړ حل‌لارو مونډلو په موخه په رسمي توګه ترسره شوه.



اردوگاه (کمپ) بنکلیچ استانبول ترکیه مورد بازدید هیات اعزامی وزارت امور مهاجرین قرار گرفت

هیئت اعزامی مشترک وزارت های امور مهاجرین و عودت‌کننده گان و امور خارجه، تحت ریاست محترم مولوی سعید احمد بنوری، رئیس دفتر مقام این وزارت، به روز پنج شنبه ۷ عقرب، از کمپ بنکلیچ در شهر استانبول ترکیه بازدید کرد.

در جریان این بازدید، هیئت از سوی مدیر عمومی مهاجرین بنکلیچ، یعقوب سلطان، مدیر کمپ و سایر مسئولان مربوطه مورد استقبال قرار گرفته سپس در دیداری با مسئولان کمپ، محترم بنوری ضمن تبریک سالگرد جمهوری ترکیه، معلومات مربوط به بازدید های انجام شده از مراکز نگهداری مهاجرین در جریان این سفر را با آنان شریک ساخت.

مدیر کمپ درباره روند نگهداری مهاجرین، خدمات، تعداد مهاجرین قانونی و غیر قانونی تدابیر امنیتی و نظارتی معلومات مفصل ارائه کرده گفت: در این کمپ هیچ فامیلی و یا طبقه اناث وجود ندارد مجموعاً تعداد ۲۴۷ تن مجردین افغان نگهداری میگردند و حدود ۷۰ هزار تن مهاجرین افغان بشکل قانونی زندگی دارند.

هیئت همچنان از بخش های مختلف کمپ، از جمله اتاق های خواب، مراکز آموزش های حرفه‌ای و زبان، بخش های فرهنگی، ورزشی، کلینیک صحی بازدید کرده با مهاجرین افغان صحبت نموده شکایات و پیشنهادات آنان را یاد داشت نمودند.

شماری از مهاجرین از کمبود فضای بودوباش، پایین بودن کیفیت خدمات صحی و غذا شکایت داشتند که هیئت پس از بررسی و ثبت این موارد، موضوعات یادشده را با مسئولان کمپ شریک ساخته و خواهان توجه بیشتر به مشکلات مهاجرین شد.

مسئولان کمپ نیز تأکید کردند که مهاجرین مطابق پالیسی موجود می‌توانند شکایات خود را آزادانه مطرح کنند و از بازدید و ارزیابی طرف های مستقل برای شناسایی کمبودی ها و بهبود خدمات استقبال می‌کنند.

این بازدید در چارچوب برنامه سفر هیئت مشترک دو وزارت به کشور ترکیه، با هدف بررسی وضعیت مهاجرین افغان، آگاهی از شرایط نگهداری آنان و پیگیری مشکلات و نیازمندی های‌شان انجام شد.



په ننګرهار کې راستنو شویو کورنیو ته لسګونه د شیدو غواوې ووېشل شوې

تېره ورځ د ننګرهار په روداتو ولسوالۍ کې ۳۰ راستنو شویو کورنیو ته د اقتصادي وضعیت ښه‌والي په موخه د شیدو غواوې او د هغوی خوراکي توکي ورکړل شول.

د ننګرهار مهاجرینو چارو رییس ښاغلي مولوي غلام الرحمن بلال وویل: دغه مرستې د یاد ریاست تر څارنې لاندې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ په مالي ملاتړ وشوې، چې هرې کورنۍ ته یوه غوا، ۸۴۰ کیلو بوس او د څارویو ساتنې نور اړتیا وړ وسایل ورکړل شول.

د هغه په خبره، د هرې غوا ارزښت ۸۹ زره افغانۍ او د ټولو مجموعي ارزښت ۲ میلیونه او ۶۷۰ زره افغانۍ کېږي.

دغه مرستې د راستنو شویو کورنیو د اقتصادي ځان بساینې په موخه شوې دي.



صد ها خانواده درکشور در هفته جاری، کمک نقدی دریافت نمودند

برای ۵۱۰ خانواده بیجاشده، برگشت کننده و جامعه میزبان در ولایات کابل، بلخ، لغمان، جوزجان، بغلان، در هفته روان مساعدت های بشری توزیع شد.

به اساس گزارشات، برای ۲۲۷ خانواده در کابل مبلغ ۸ میلیون و ۱۹۲ هزار افغانی، برای ۲۶ خانواده در لغمان مبلغ ۲۲۱ هزار افغانی، برای ۲۰۴ خانواده در بغلان مبلغ یک میلیون و ۹۰۶ هزار و ۹۰۰ افغانی، برای ۵ خانواده در جوزجان مبلغ ۶ هزار و ۵۰۰ افغانی و برای ۴۸ خانواده در بلخ مبلغ ۷۴۷ هزار و ۵۰۰ افغانی کمک نهاد های همکار این وزارت بود که خانواد های متذکره آن را پس از شناسایی توسط واحد های دومی این وزارت در هما هنگی موسسات دریافت نمودند.

همچنان طی همین هفته، برای ۸۰ تن در ولایت کابل مبلغ ۶۶۸ هزار و ۹۰۰ افغانی، برای ۱۲۰ تن در ولایت فراه بخاطر اخذ تذکره برقی مبلغ ۹۰ هزار افغانی، برای ۹۵ تن در ولایت بدخشان مبلغ یک میلیون و ۴۱۸ هزار و ۶۰۰ افغانی، برای ۱۰۰ تن در ولایت بغلان مبلغ یک میلیون ۲۰۰ هزار افغانی، نیز کمک نهاد های همکار بود که پس از شناسایی افراد متذکره توسط واحد های دومی این وزارت توزیع شد.

له یوې همکارۍ موسسې سره د همکارۍ هوکړه‌لیک لاسلیک شو

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت کې نن له دوامداره پراختیا او هوساینې موسسې سره د ۳ میلیونه ۱۸۸ زره او ۶۲۰ افغانیو پر ارزښت د همکارۍ یو هوکړه‌لیک لاسلیک شو.

دغه پیسې به په ننګرهار کې ۸۰۰ تنو راستنو شویو، بېځایه شویو او کوربه ټولنې غړو ته د عامه پوهاي او نغدي مرستو په برخو کې مصرف شي.

د مهاجرینو چارو وزارت د ورته هوکړه‌لیکونو لاسلیکول راستنو شویو ته د عامه پوهاوي او ښه خدمت وړاندې کولو په برخو کې غوره چاره ګڼي.



د پاکستان له بندخونو ۴۱۶ افغان کډوال ازاد او هېواد ته راستانه شول

روانه اونۍ د پاکستان له بندخونو ۴۱۶ تنه افغان کډوال ازاد او هېواد ته راستانه شول.

د راپورونو له مخې، یاد کسان د تورخم فرضي کرښې له لارې هېواد ته دننه شول. دوی د ننګرهار مهاجرینو چارو ریاست په لېږد امریت کې ثبت د همکارو بنسټونو تر مرستو وروسته خپلو سیمو ته ولېږدول شول.

دغه چاره د بندیانو وضعیت ته د رسېدنې او هغوی ته د راستنېدو زمینې برابرولو په موخه ترسره شوې ده.



گامی تازه در راستای بهبود آموزش برای مهاجرین؛ دو ساختمان جدید مکتب در غور افتتاح شد

دوباب مکتب جدید، متوسطه میدان هوایی و ابتدائیه سیدآباد، در شهر فیروزکوه، مرکز ولایت غور، با حضور آمر امور مهاجرین و عودت‌کننده گان ورئیس معارف آن ولایت، به تاریخ ۱۱ عقرب، افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.

مکاتب یاد شده با هزینه مجموعی ۵۸۱ هزار دالر امریکایی، به حمایت مالی کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان (UNHCR) و با همکاری و نظارت ریاست معارف و آمریت مهاجرین غور اعمار شده که هر یک از این ساختمان ها در دوطبقه و به‌گونه پخته و اساسی ساخته شده و دارای ۱۰ صنف درسی، دو اتاق اداری و سایر امکانات مورد نیاز می‌باشد.

با افتتاح و بهره برداری از این دو مکتب، زمینه مناسب تر آموزش برای دانش‌آموزان برگشت کننده فراهم شده و بخشی از نیازمندی های زیربنایی مکاتب در شهر فیروزکوه نیز برطرف می‌شود.